# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| زن پیشتاز | Vanguard Woman |
| --- | --- |



ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۵ اکتوبر ۲۰۱۵

# د ښځو سور پوځ

## (۵)



د سیمې قومندان زیاته کړه:«اوس، زه د سره پوځ او د آزاد شوی سیمې جونګ یای کمیټې له خوا، د ښځو لومړنۍ سور پوځ ته پوځي بیرغ ورکوم.»



جونګ هوا د هون لیان سره د ستیج خوا ته لاړه، په دې وخت کې د ښځو سره پوځ د سره پوځ سرې ترانې ویلی او رسم ګذشت یې تر سره کوه. د سره پوځ یوې تنې سرتیرې هغوې ته وویل:«تاسو دواړه له مونږ سره نشی تللی، ځکه چې زمونږه ډله د معاینې لپاره ځي.»



له معاینې وروسته د ډلې قومندانې له جونګ هوا وپوښتل:«تاسو دلته څه کوئ؟» جونګ هوا ځواب ورکړ:«مونږ غواړو چې د ښځو په پوځ کې شامل شوو.» قومندانې وویل:«د ډلې د معاینې په وخت کې ما حدس ووهو چې تاسو دواړه ډیرې زړورې یاستې.»



قومندانې بیا وپوښتل:«تاسو ولې غواړئ زمونږ په پوځ کې شامل شئ؟» جونګ هوا د خپل کمیس یوه برخه خلاصه کړه او خپل زخمونه یې ښکاره کړل او وې ویل:«د دې لپاره!»



په دې وخت کې د سیمې قوماندان او هون چانګ چنګ راغلل. جونګ هوا هغه ولید او په حیرانتیا یې ورته وویل:«دا څه وینم؟ آیا سمه ده چې تاسو هماغه کس یاست چې پر آس سپور وئ؟» هون چانګ چنګ خپل سر په مثبت نښې وخوځو او بیا موسکا شو او قوماندان ته یې وویل:«دا هماغه سرتیرې ده چې درته ویلی مې وو.» قوماندان وویل:«ښه ښه! پریږده چې همدلته پاتې شيٍ.»



کله چې جونګ هوا او هون لیان دواړو د لومړي ځل لپاره د سره پوځ جامې واغوستلې، د دواړو لپاره د نیمکرغۍ شیبې پیل شوې او احساس یې وکړ چې د هغه نه خلاصیدونکې ځواک څښتن دي چې د ژوندانه نیکمرغي یې له همدې ځواک سره تړل شوې ده.



کله چې جونګ هوا او هون لیان د انقلابي پوځي روزنې دوره تیره کړه، یوه ورځ قوماندان هغوی ته وویل چې د **یالین** کلي ته دې لاړې شي او د دښمن د لیږد او حرکت څخه د معلومات راټول کړي.
دواړو جامې بدلې کړې او چمتو شول. د هغوی د تګ په وخت کې قوماندان ټینګار وکړ «چې په هیڅ حالت کې نه ښیي دښمن تاسو ووینئ او باید ډیر زیات احتیاط وکړئ.»



جونګ  هوا او هون لیان د یلین کلي ته ورسیدل او د سویل له لوري مخې ته لاړل. هغوي د دښمن نوي جبهې په ښکاره ډول لیدلئ.



په دې وخت کې نان باتیان د خپلو نوکرانو سره د هدیرې خوا ته د خپلو نیکه ګانو د زیارت لپاره تلو. جونګ هوا کله چې د هغه څیره ولیده قهرجنه شوه او ژر یې خپله تمانچه راوویستله. هون لیان ترې وپوښتل:«څه کوئ؟» جونګ هوا ځواب ورکړ:«غواړم خپل انتقام واخلم.»



ځو چې هون لیان غوښتل د هغې مخه ونیسي، جونګ هوا دوه ډزې وکړې.



یو مردکی د نان باتیان په مټ ولګید. د هغې شاوخوا کسان له ویرې او ترهه ځخه سخت وډاریدل.



هون لیان متوجه شوه چې دښمن د هغوې پټنځای ولید، د جونګ هوا سره له هغه ځایه وتښتیدله او د پوځ آمریت ته راغلل. قومندان جونګ هوا ته وویل:«تا ته نه ښیي چې د خپل شخصي غچ لپاره د پوځ نظم ګډوډ کړې. ته یوه سرتیره یې، که غواړې ځانځاني وکړې، نو ځان ته بله لاره ولټوه!»



جونګ هوا کله چي قومندان قهرجن ولید او فکر یې وکړ چي شاید نور هلته ځای ونلري، سترګي له اوښکو ډکي شوئ او په فکر کي لاړه:«په دې کار کي زما څه تیروتنه وه، آیا د زمیندار وژل بد وو؟ زه نو چیرې لاړه شم؟ سور پوځ خو زما کورنۍ او ټول ژوند دی.»



هون چانګ چنګ بی له ځنډه د جونګ هوا د پوهولو لپاره راغی او وې ویل:« سرتیرئ جونګ هوا، ته فکر کوئ یوازې ته دا درد ګالئ؟ نه! د ټولو بیوزلو او کارګرانو په سترګو کي دا درد او غم څپې وهي، آیا ته واقعاً په یوازې ځان جنګیدلی شئ؟ نه! دا مه هیروه چي ته یوه انقلابي سرتیرې یې.»



د هون چانګ چنګ خبرو پر جنګ هوا ډیره اغیزه وکړه. هون چانګ چنګ غوښتل چي جونګ هوا دا درس تل په یاد ولري، نو ورته یې وویل:«لاړه شه بیا هم د خپلو تیر وتنو په اړه فکر وکړه.» قومندان کله چي ولیدل چي هون چانګ چنګ په سمه توګه هغه پوه کړه، احساس یې وکړ چي پر جونګ هوا باندې د هغه قهریدل سم کار نه و.